مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۱/۰۳/۰۶

# د ښځو د اندامونو غوڅول،

## د نارینه وو د غیرت یو ځلی

### د مارچ اتمه، د ښځو نړیواله ورځ

**سږکال هم لکه د تېرو کلونو په شان غواړم د ښځو د نړیوالي ورځې په پار ګڼي داسي مقالي ولیکم چي د مېرمنو په باب زموږ د ټولنې منفي او مثبت افکار ځرګند کړي، څو وتوانېږم چي په ټولنه کي او د خلکو په افکارو کي د افغان مېرمني اوسنی حالت خلکو ته وښیم. په مثبتو پاینتونو به یې خامخا ویاړو او په منفي به یې هغه څوک زوروېږي چي د ښځو د حقونو پلوي دي، پر متضرري خو هسې هم سور اور بل دی. د دې زوروېدو او اور بلېدو تر څنګه به مو توله هڅه دا وي چي د مېرمنو په باب د خلکو د ذهانو منفي اړخ په مثبت دول بدل کړو.**

**که زما  په مقالو کي د تلي منفي خوا درنه وي، ما به نه ملامتوئ، همدا مو خلک دي، همدا مو ټولنه ده او همدا یي د ښځو په باب نظر دی چي باید د بدلولو هڅي یي ګړندی کړو. زه چي د ښځو په باب له دوی سره د تاوتریخوالي او منفي کړونو یادونه کوم، اصلي موخه مي د ښځو د غږ جګول او له دې ناوړه حالت او ستونزو نه د دوی ژغورل دي.**

**افغان مېرمن:**

**د مارچ د اتمي تر لمانځلو او دِلیو نه مو زه درتېره یم،**

**مه مي وهئ!**

**مه مي رټئ!**

**مه مي ښکنځئ!**

**نور څه مه کوئ، د انسان په سترګه راته وګورئ!**

د قانون، پولیسو، حکومت او دولت د نشتوالي یا ضعف په پار د افغانستان په ډېرو برخو کي نارینه ګان د خپل غیرت؟ د پر ځای کولو په ونج کي د ښځو پزې ورغوځوي. د ښځو د پزې نشتوالی مساوي د نارینه وو غیرت.

خبره پر غیرت او د غیرت په ناسمه پوهېدنه باندې راڅرخي. زموږ په ټولنه کي ډېر ځلي د مېرمنو ژوند له یوې کلمي نه د ناسم برداشت او داسي احساساتو د بریادی کندي ته غورځولی دی چي ډېره سلنه کارونکي یي په مانا هم نه پوهېږي، هغه د «غیرت» توری دی.

غیرت کېدای شي داسي تعریف شي:

له خپل ځان، کورنی، ناموس، کوڅي، کلي، ښار، شتمنی او وطن نه د دفاع کولو د احساساتو ټولګي ته غیرت ویل کېږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

خو زمونږ په ټولنه، په تیره په پښتنو کې په عملي ډول لیدل کېږي چې ډېره سلنه خلک غیرت دې ته وایي چې د ښځو هر اړخیزه ازادي له منځه وړي، له کور نه یې د باندې نه پرېښودلو ته، له زدکړو نه یې د محروومولو عمل ته غیرت وایي او په همدې لړ کې نجونو او ښځو ته ویل کېږي چې نارینه د هر څه حق څکه لري چې د نجونو او ښځو ساتنه کوي، خو دا یې هېر دي چې د همدې نارینه لومړنی عملي ساتنه یوه ښځه (مور) کوي.

دا د یوې بهرنی مېرمنې د خولې خبره ده:

«د غیرت مسأله چې شي، نارینه (وړور، پلار، مېره، لیور...) ښځې ته وایي چې زه دې ساتنه کوم، خو دې ته یې پام نه وي چې هغې ښځې (مور) د همدې نارینه څومره او څنګه ساتنه کړې:

**په نس کې،**

**په غېږ کې،**

**لاس نیولی.»**

د ډېر معلوماتو له پاره دې لینک ته سر ورښکاره کړئ:

http://www.afghan-german.net/upload/elmi_bibliothek/bahand_a_shazgoly_ketab14.pdf

کله چې په کورني ژوند کې د نارینه او ښځې ترمنځ یو عادي اختلاف رامنځته شي، له ناپوهی، بېسوادی او د ناوړه کلتور څخه د پیروئ په دایره دا اختلاف په کشکړپ، وهلو ټکولو بدلېږي او نارینه د خپل «نرواکي» حاکمیت نه په استفادې سره د نجونو او مېرمنو د بدن د اندامونو د پرېکولو عمل ترسره کوي.
په تېر یوه کال کې به د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې بېشمیره داسې پېښې شوې وي چې نه خلک پرې خبر دي، نه سرکار او نه هم میډیا، دا پېښې د غیرت د پر ځای کولو په نامه ترسره شوې دي او د همدې غیرت د تازه ساتلو له پاره خاورې ورباندې اړول شوې دي او د ژوند تر پایه یې د فزیکي او رواني ضرر پېټی هماغه نجونې او مېرمنې پر خپل بدن او روان باندې زغمي چې دا عمل ورسره ترسره شوی دی.

دغه یې دوې غوره بېلګې دي:

ـ پکتیکا: مېړه د خپلې مېرمنې په پوزه پرې کولو تورن شوی،

ـ د زرګې کیسه؛ مېړه ولې پوزه تړې پرې کړه؟

د لومړني رپوټ په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

«د پکتیکا والي مجیب الرحمن څکمني بي بي سي ته وویل، د جاني خېلو ولسوالی په میجک کلي کې د برات په نوم یوه تن د خپلې مېرمنې پوزه پرې کړې چې د ده په وینا اوس د پولیسو په توقیف کې دی.

د پکتیکا امنیه قومندان نثار احمد عبدالرحیم زي بي بي سي ته وویل چې برات نومي سړي په خپله منلې چې د کورني تاوتریخوالي له امله یې د خپلې مېرمنې پوزه پرې کړې:

"دې سړي په خپله په خپل جرم اعتراف کړی او ویلي یې دي چې مېرمن یې غوښتل ورڅخه طلاق واخلي او کور ور پرېږدي، چې په پایله کې یې ده پوزه پرې کړه".

د دې ولایت له رسنیز دفتره په خپره شوې وینا پانه کې راغلي چې دا پېښه څو ورځې وړاندې په جانیخېلو په ولسوالی شوې وه خو کورنی یې پټه ساتلې وه.

خبریانه کاري: "پولیسو ته د خبر رسېدو سره سم یاد کس د پېښې له سیمې تښېدلی و او د پولیسو تر څارنې لاندې و چې تېره شپه یې بیا غوښتل کور ته ور واوړي چې د پولیسو له لوري د یوه میل تفنګچې او چاقو سره ونیول شو".»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ



دا غیرتي که له خپلې وسلې سره بیا تر مېرمنې وررسېدلای وای، خامخا یې وژله، یا به یې هم تېښته، د مخالفینو لیکو ته ورتګ او د جهاد په نامه وسله اخستل او...

د پاسني رپوټ په بله برخه کې داسې راغلي دي:

«په افغانستان کې وخت ناوخت له مېرمنو سره د کورني تاوتریخوالي رپوټونه ورکول کېږي.
په ځینو پېښو کې سړو له ښځو سره تاوتریخوالی کړی او ځینې وخت بیا خپله ښځه د ښځې پر وړاندې د تاوتریخوالي لامل ګرځېدلې ده.

په ۲۰۱۳ کې، د هرات انجیل ولسوالۍ کې یوه مېره د خپلې مېرمنې پوزه او شونډې غوڅې کړې وې او پر بدن یې د چړې ګوزارونه هم کړي وو.

قرباني شوې ستاره بیا وروسته د پوزې او شونډې د درملنې لپاره ترکیې ته واستول شوه.
هغه وخت ویل شوي وو، چې له ښځو سره د کورني تاوتریخوالي اصلي لاملونه بې وزلي او په نشه د روږدو کسانو ډېروالی دی.

تر هغه وروسته په ۲۰۱۴ کال هم دایکنډي ولایت کې یوې ښځې تر لفظي شخړې وروسته د خپلې بنې پوزه غوڅه کړې وه.

د فاریاب ولایت اوسېدونکې ګل اندامه هغه ښځه ده چې وایي، لور یې له واده یوازې نهه میاشتې وروسته د خپل مېړه په کور کې ووژل شوه، خو تر اوسه یې هېڅوک هم د وژلو په تړاو نه دي نیول شوي.
د مبارزې له ګڼو هڅو سره سره، لا هم هرکال افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي کچه پورته ځي. ډېرې لړ داسې لیدل کېږي چې د ښځو د حقونو سرغړوونکي دې خپله سزا وګوري.

د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي څارونکي بنسټونه وایي، د دې ډول پېښو د څېړلو بهیر ډېر ورو او ټکنی دی او هغه ښځې چې د کورني تاوتریخوالي له امله کور پرېښودلو ته اړې شوې په کلونو کلونو په امن خونو کې شپې ورځې تېروي.»

د غیرت د پرځای کولو دویمه بېلګه هم د پزې پرېکول دي. په دې پېښه کې هم کورنی تاوتریخوالی، وهل ټکول او په پایله کې نارینه د «نرواکۍ» د قانون په دایره کې د خپلې مېرمنې پوزه ور پرېکوي. د کیسې په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

«'زما پوزه دې راپرې کړه، اوس ستا پرې کوم'



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

څه باندې دوه میاشتې مخکې دا پېښه رامنځ ته شوې.

زرکه کیسه کوي چې له کلونو راهیسې یې مېړه وهي او ټکوي. دا یوه ورځ د مېړه له اجازه پرته د پلار کور ته لاړه او پر پلارګنۍ کېناسته.

'ما ورته ویل چې ځنې خلاصه مې کړئ. وهي مې، ټکوي مې، پکو کوي مې'.

خو په دویمه ورځ یې مېړه پسې ورغلی چې بېرته یې کور ته بوځي. د زرکې پلار ورته ویلي، تر څو داسې ضامن ورنکړي چې په لور به یې بیا لاس نه پورته کوي، تر هغه یې نه ورسره پرېږدي.
د زرکې مېړه خپل تربرونه د هغې پلار ته ضامنان ورکړي چې بیا به داسې نه کوي.

خو زرکه وایي چې مېړه یې پر لار ورته ویل، 'زما پوزه دې راپرې کړه، زه به ستا پوزه پرې کوم'.
زرکه وایي چې کور ته راورسېدو نو ومې لیدل چې تومانچه او چاړه دواړه ورسره دي، هماغه و چې دې د ځان خلاصولو لپاره ترې منډه کړې دي او غوښتل یې یوه څنګلورې کور ته ننوځي خو...

"زه یوه کور ته ترې ننوتم خو د کور دروازه بنده وه. ده تر کمیسه راونیولم چې چېرې پردیو کورو ته ورننوځې. ما ویل ته مې وهې، چاړه ورسره وه، ځنې ډارېدم. همداسې راپورته شو، باغچې ته یې ګوزار کړم، پوزه یې راپرې کړه او دی لاړ".

له بده شامته دا غمیزه او دې ته ورته په سلګونو او زرګونو غمیزې همدا اس هم زموږ د وطن په بېلابېلو سیمو کې روانې دي، د مخنیوي او درولو له پاره یې هر څه کېدای شي، خو عمل په کار دی. متضررین به ټول عمر دا نادودې زغمي او د «قسمت» په نامه به ورته ناست وي.

زه فکر کوم چې تر څو د نارینه وو ذهنیت بدل نه شي، پر نجونو ام مېرمنو باندې به د ظلم دا لړۍ روانه وي. که چېرې د نارینه وو ذهنیت بدل شي، دا حالت په خپله بدلېږي او د نارینه وو ذهنیت هلته بدلېدای شي چې تعلیم عام شي او د نارینه وو په ذهن او وجود کې چې څه رواني ستونزې دي او په عیني ژوندانه کې یې څه اقتصادي نیمګړتیاوې دي، هغه خل کړای شي. کله چې دا شیان ترسره شول، بیا به د نارینه وو د ذهنیت د بدلېدو امید پیدا شي، پرته له هغه به پر نجونو او ښځو باندې د تاوترخوالي روان سرېال ښه په مزه زموږ د وطن پر ستېژ باندې ننداره ته وړاندې کېږي.

د دې مقالې په پای کې د ډاکتر محمد تنها دا تندې تندې او د دوو پز پرېکړو مظلمو مېرمنو عکسونه:

« بېغیرتو!

خور مو په نارینه ډاکټر معاینه کوی، لور مو په نارینه پولیس تلاشي کوی، مېرمن مو د نارینه قاضي فیصلې ته ناسته وي او مور مو له نارینه ملا تعویذونه اخلي. که په تاسې کې غیرت وای او د کور په ښځمنو مو درس ویلی وای نن به مو د مجبوریت په نامه دغه د بېغیرتي زهر نه خوړل.

- چا چې خپله خور، لور او مېرمن ښوونځي او پوهنځي ته نه وي پرېښې هغه بد کوي چې د ښځو حقونو او په ټولنه کې د ښځو ونډې په اړه پر پېسبوک مونږ ته لکچرونه راکوي.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ







**مور سره ښايي چې خپل نيمايي بدن (ښځې)؛ په خپله غوڅ نه کړو،**

**مور بايد د ښځو درناوی وکړو، د زدکړو او ښه ژوند زمينه**

**ورته برابره کړو، طبعي حقونه يې تر پښو لاندې نه کړو،**

**دويمه درجه انسان يې ونه ګڼو او...**

**او په تشو خبرو سره د مارچ د**

**اتمي ورځې د لمانځلو پر ځای،**

**عملاً داسې څه وکړو چې**

**ښځه د ټولنې له خوا،**

**له بل کړای شوي**

**اور نه را وباسو.**

(آصف بهاند)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ